# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

فقیر

۲۲ اگست ۲۰۲۳

## د خوست اوننگرهار ځوانانو خپل ملی او تاریخی ارزښتونه و پالل

زموږ خویندو تیرو دوو کلونو راهیسي په زړورتیا د جهل او تحجُر په وړاندې خپلو اعتراضاتو ته دوام ورکړی. په دې لړ کې دوی له ډیرو تهدیدونو او ګواښونو سره مخ شوي دي. پرون یکشنبه ( ۲۰/۸/۲۰۲۳) زموږ څو تنه خویندی د یو اعتراضیه غونډې په بهیر کی نیول شوی هم دي. نه هیروو چی ځوانانو هم په زړورتیا سره د استقلال ورځ د ملی بیرغونو په اوچتولو نمانځلی ده. سره له دی چی خوست کې د ځوانانو خولې په هماغه بیرغ بندی شوی، چې دوی هسک کړی و.

دخوست تر څنګ د ننګرهار ځوانانو ملی بیرغ هوایی پوکانیو سره تړلی او رپولی یې دی. د ننګرهار یو ځوان(شهید زاهد) دوه کاله مخکی د استقلال د نمانځنې په ورځ د طالبانو له خوا له ملی بیرغ سره شهید شو. ننګرهار هماغه ولایت دی چې پنځه کاله مخکې د قاسم په نوم یوځوان د ډیورند پر کرښه د پاکستانی ملیشه و سره د مبارزی په ترڅ کی شهید شو. د دغه ولایت ځوانانو تیرو وختو کې هم تنظیمی او قومی ټیکه دارانو ته د (نه!) ځواب ویلی و. دوی د یو مدنی نهضت په توګه خپله مستقله لار غوره کړی ده. دلته غواړم د ننګرهار ولایت او دهغه اقتصادی پوتانسیل او اقلیمی مزیت او له تعلیم سره یې دخلکو مینه لنډه معرفی کړم:

ننګرهار ولایت مدیترانه یی اقلیم لری. دغه سیمه د نفوسو( کارځواک)، موقعیت(ترانزیت او لویی تجارتی لار)، بندرونو او ګمرک(تورخم بندر)، اقلیم، زراعتیی زمکو او څلور فصله حاصل ورکولو د وړتیا له مخی د هیواد په اقتصادی او د ملی تولید برخه کی مهم دی . دغه ولایت په مشرقي زون کې یو ترانزیتي او تجارتي مرکز دی، کانونه، صنایع، کرنه او مالداري او لویه لاربې د یادونې دي.

ننګرهار ولایت دري صنعتي پارکونه لري تیروشلو کلونو کې (۴۰۰)فابریکې (۳۶۰) مختلفې پروژې پکې فعاله وې، ځینې یې اوس هم شته، د دې ترڅنګ پوهنتونونونه او څو انستیتوتونه هم لری، چی د ماهرو او متخصصو مدیرانو روزنه کی رول لري. د غرونو په زیاتو برخو کې کانونه هم لري.

البته دا سیمه د اوسنی ماشیني صنایعو ترمخه مختلف لاسي صنایع لرل، لکه له ګنیو د ګوړی جوړول، پوزي اوبدل، کلالی، نجاری،د دسمال او غاړو بدل، پکول، لونګی اوواسکټ او څپلی جوړول، جارو او پکی، کټونه او لرګین صندقونه یې د لاسی صنعت مثالونه ،خو چې کله د صنعتی ماشینونه په کارولویدل، اوس کارونه په ښه کیفیت او کمیت سره ترسره کیږی، یو مثال یی د زیتونو فابریکه، صابون او شامپو جوړول، درمل، لبنیات، د شاتو تولید، فلزکاری او ډیر نور صنایع دي.

د ننگرهار د اوبو لګولو پروژې په جوړېدو سره سپېرې دښتې د کرنې لپاره آماده شوه چې زياتره اندازه ځمکه يې فعلاً د مثمرو نیالګیو لرونکی دی.

د ننگرهار ولايت (۸۰) سلنه وګړي په کرنه او مالدارئ بوخت دي.دا چې ننګرهار ولایت د ښه اقليم په لرلو سره د کرنې او مالدارئ لپاره مساعد او ځمکي يې کال کې دوه يا درې فصلونه دغلو-دانو او سبو، او مختلفو مېوو توليدات لری او نورو ولايتو ته هم استول کيږی. غوره کرنيز نباتات يې غنم، جوار، وريجې، وربشې، غوړ لرونکی نباتات، شړشم، کنځلي، خشخاش، پندانه او داسي نور دي. کرنه يې اقتصادي وده کې ارزښتناک ځای لري او په کرنه کې د اصلاح شويو تخمونو، کيمياوي سرو او نباتي ناروغيو په وړاندی د درملوکارول، د هرزه بوټو کنترول، زهکشی او د نويو ورايټيو ترويج عصری شکل نيولی اوکرنه کې اوس له ماشين څخه ګټه اخستنه زياته شوی.مالداري يې يو بله اقتصادی منبع د، چې د دښتو څرځايوه او غرني ځنګلونه ورته مساعد دي چې زياتره کليوال مالداره وګړي او کوچيان خپل څاروي د اوړي په موسم کې دغو سيمو ته د څر لپاره بيايي، د اوړي موسم د تېرولو وروسته خپل څاروي بېرته خپلو کليوالو سيمو ته راوړي.

د ننگرهار په يو شمېر سيمو کې کاني زيرمې هم شته، چې په مختلفو ډولونو وېشل کيږي، د دره نور په ولسوالی کې د سربو، چيني پيالو جوړولو د موادو کانونه، په خوږيانو او اچين ولسواليو کې د تالک د ډبرو کانونه، د حصارک په ولسوالی کې د سربو او ياقوتو کانونه د يادولو وړ دي. که چېرې په ننګرهار ولايت کې د کانونو لپاره جيولوجيکي څېړنې ترسره شي، نورې نوې کاني زيرمې به هم وموندل شی.

د شوکانې کان يې دعايداتو له مخې د پام وړی دی. پدې کان کې بيلابيل شرکتونه کار کوي چې صادرات يی زرګونو ټنو پورې رسېدلی دي.

دا سيمه د کابل د سيند د اوبو لګولو حوزه کې راځي، خو متاسفانه ددغه لوی سيند، اوبو باندې صرف يوه پروژه جوړه شوی، چې څلور ميکانيزه فارمونه اويوه د برېښنا داوليد فابريکه لری، نوری اوبه بی ګټې له هيواده وځي. که چيرې دغه ولايت کی د اوبو منابع ښې او علمی مديريت شی، د دی ولايت کرنيزتوليدات، صنعت او تجارت څو څو خله نور هم اوچتيدای شی، دغه راز که کاونونه د دولت تر کنترول لاندی راشی او فعلی غير رسمی استخراج يی فنی او رسمی شی، ګټه به يی ډيره اوچته وي.

د افغانستان دوهم لوی پوهنتون شپيته کاله مخکې ننګرهار کی تاسيس شو. د دې ترڅنګ په جلال اباد ښار او ولسواليو کې لسګونه ليسي، مسلکی انستيتيوتونه، مسلکی ښوونځی او علمی مرکزونه لری. دا سيمه د مطبوعاتو برخه کې هم ښه سابقه لری. تيرو شلو کلونو کی لسګونو راډوی ګانو، تلويزيونونو ، مجلو او اخبارونو دلته نشرات لرل. د ننګرهار خلک بايد دا ارزښتونه وساتی او دفاع ورڅخه وکړي. دافغانستان د روشنګری د نهضت مشر؛ امان الله خان همدی ولايت کی دفن دی.

د استقلال د ورځې په مناسبت د دوی وطندوستانه احساسات دا ثابتوی چې تعليم، مطبوعات او علمی مراکز د ځوانانو تنوير او د وطندوستی داحساس روزنه کې لوی نقش لری. زموږ لويه تيروتنه دا وه چې تير وخت کې مو دغو عواملو ته پوره توجه نه وه کړی. که تعليم، مدنی حرکت، مطبوعاتو او د اذهانو تنوير ته مو پام کړی وای، په افغانستان دغه توره ورځ نه راتله.